# د ملاکنډ غزاګانې د شاعرانو په نظر کښې

## The Ghazwat of Malakand Division in poets' perspective
## Poets' outlook on the Ghazwat of Malakand Division

ډاکټر علي خېل درياب*
شهباز محمد•

Abstract:

There are many armies of different nations marched and annexed Malakand. The inhabitants fought bravely but did not keep any record. In the last century, the British annexed it. As in the past, the people reacted strongly and announced the Holy War. The local poets recorded some of the deeds of their people which is the part of folklore now.

**Keywords:** Holy War, Malakand, Pashto Poetry.

د تاريخ سره مينه لرونکي چې کله هم د ملاکنډ نوم واؤري، نو ورته سمدستي د ملاکنډ په خاؤره شوي غزاګانې سترګو سترګو ته شي. هسې خو په ملاکنډ او چاپېره سيمه د ماقبل از تاريخ نه ورچنيزو يرغلګرو وخت په وخت يرغلونه کړي دي او ددې ځائی وسېدونکو د هغوي مقابلې ښه په نره کړې دي، دغه يرغلګر چې د بهر دنيا وو او په خپلو ژبو ئې د دغه جنګونو په اړه ليک کړی دی خو په دغه ژبو د نۀ پوهېدو په سبب ددې ځائی وګړي د هغې نه ناخبره دي. البته د فيرنګي د دور غزاګانې په کومو کښې چې د فيرنګيانو ډېر مالي او ځاني زيانونه شوي دي، هغوي پخپله انګرېزي ژبه کاغذ ته سپارلي دي. او بيا له دغه وخته پس چې ددې سيمې وسېدونکو انګرېزي ژبه زده کړه نو د خپلو اسلافو د هاغه ځينې کارنامو نه هم خبر شو د کومو چې دوي ته هډو څۀ ادراک نۀ وۀ. په دغه جنګونو کښې چې څومره فيرنګيان او يا د هغوي پلويان مړۀ دي، د فرنګي په ريکارډ کښې د هغوي کټ مټ تفصيل موجود دی.

پښتنو د بده مرغه د ليک دغه کار نۀ دی کړی. توره ئې پکار راوستې خو قلم ئې شاته غورزولی دی. البته د خپل وخت زنانه ؤ او يا نورو پښتنو چې کومې ټپې وئيلې، په هغوي کښې ددغه جنګونو يو تت شان عکس په نظر راتلی شي. په دغه سلسله کښې د اولسي شاعرانو د شعرو شاعرۍ کار ډېر د کار، کار دی. څو کۀ د نزدې وخته پورې دغه کار چا د قلم په ژبه کاغذ ته نۀ وو سپارلی خو سينه په سينه محفوظ وۀ. د ججرو مېلسونه پرې ګرم وو او د بعضې هاغه شهيدانو نومونه عوامو پېژندۀ کوم چې په دغه عوامي سندرو کښې ستائيلی شوي وو. اوس چې د عوامي تاريخ غېر پلويزه ليکلو دوام موندی دی نو د تاريخ ليکونکي د اولسي شاعرانو د دغه

---

* Assistant Professor.Department of Pashto,University of Malakand,Chakdara
• M.Phil Scholer, Department of Pashto,University of Malakand,Chakdara

قسمه کلام نه ډېرې داسې خبرې په داگه کولې شي چې پخوا د هغوي تصور کول هم گران وو. په دې حقله خدائی بخښلی ډاکټر صاحب شاه صابر لیکي:

"د ملکونو، قامونو او قبیلو تاریخونه ډېر خلق لیکلی شي او لیکلی شوي دي خو دغه هر تاریخ به تر هغې نیمگړی وي چې تر څو ئې د خلقو د اولسي ادب (خاص کر منظومې برخې) څخه استفاده نهٔ وي کړې، ځکه چې په دغه ادب کښې د خلقو د اولسي تاریخ لویه برخه محفوظ وي. نن چې د خلقو زمانه ده، هر څهٔ د خلقو په نظر کتی شي او د خلقو غوندې د خلقو تاریخ هم اهمیت لري، ځکه نو نن د تاریخ لیکنې د نظره اولسي ادب مهم اهمیت لري."(۱)

زمونږ اولسي شاعري کهٔ یو لوري ته عام واقعات په خپله لمنه کښې ځائی کړي دي نو بل لوري ته ئې د تاریخي نوعیت یو شمېر واقعات محفوظ ساتلي دي. زمونږ ټپې، چاربېتې، بدلې وغېره هم ددغه تاریخ امینې دي.

په دې خاوره د فیرنگي سره دغه مبارزه د ملک د ازادۍ پورې روانه وه. د وړو وړو برېدونو نه علاوه چې کومې لویې غزاگانې شوې دي په هغوي کښې د کال۱۸۹۵ سنهء، کال۱۸۹۷ سنهء، کال ۱۹۱۵ سنهء او کال۱۹۳۵ سنهء غزاگانې یادونې وړ دي. ددغه غزاگانو او غازیانو حال اولسي شاعرانو تر څهٔ حده پورې محفوظ کړی دی. هغوي ته چې څوک غدار ښکارېدهٔ او څوک ورته په وطن سرشیندونکي ښکاره کېدل، بغېر د څهٔ تخصیصه ئې بې ویرې بې ترهې د هغوي بیان کړی دی. په هیچا ئې وچ لامدهٔ خوړلي نهٔ دي او تاریخ ته ئې خپل جذبات او د وطن د هاغه وخت انځورونه حواله کړي دي. دلته څو معلومې دغه شعري بېلگې لیکلې شي.

په کال ۱۸۹۵ سنهء کښې چې کله فیرنگي د ډیورنډ د کرښې راښکودو نه پس د خپل دغه سرحد د مضبوطولو دپاره چترال ته د سړک ویستو اراده وکړه چې د روس پېش قدمي هم رامنع کړي او د خپل وسله وال فوځ په ذریعه د دې ځائی اولس هم ټینگ کړي. ددې ځائی غېرتمندو پښتنو د فیرنگي قدم پخپله خاوره برداشت نه کړې شو. مقابلې ته ئې راوواتهٔ. د ملاکنډ نه واخله تر چتراله پورې ئې په تشه کاتۍ د مضبوط دښمن مقابله وکړه. اگر چې کامیاب نهٔ شو خو دشمن ته ئې خپل زور وښودلو. د کال ۱۸۹۵ سنهء دا ټپې اوس د تاریخ مهمه برخه ده:ـ

په ملاکنډ توره تیارهٔ شوه
هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه(۲)

په ملاکنډ ئې توپې چل کړې
تر رنگ مالا پورې ئې وشیندل گلونه

چرتـــه لنـــدن چرتـــه چتـــرال
بې ننګي زور شوه فيرنګيان چترال له ځينه(۳)

د چترال ريليف فورس ته چې کله پښتنو سينه وټپوله او په لاره کښې ورته برند شو۔
غازي الدين شاعر دغه نقشه پخپله چاربېته کښې دا راښکلې ده:ـ

انګريز بيا ترلی لام دينه
څنګه جنګونه په چترال کوي
پروت په درګۍ ورته ګودام دېنه
اخلي سوات د بونېر خيال کوي

انګريز و بيا جمع لښکر کړو نه
حېران په فکر کښې ډوب لاړمه زۀ
په ملاکنډ ئې حکم ورکړو نه
تل د اسلام برى به وايمه زۀ
ما خو پرې داؤ خپل مال و سر کړونه
غنچې رژېږي څۀ به ژاړمه زۀ
د شهادت عالي مقام دېنه
مخ ئې رڼا لکه مشال کوي

د باجوړ په حال اګاه يمه
عمرا خان داؤ تر کابله کوؤ
په بهادرانو کښې دې نۀ ستايمه
چې زور دې نۀ ؤ فساد دې څله کوؤ(۴)

د کال ۱۸۹۵ء غزا جوړېدو سره کۀ يو خوا د هر لوره غازيان ډلې ډلې لکه د مچو په فيرنګي راغوټه کېدۀ ۔شهادت ئې موندو نو بائيلات ئې پښتانۀ په سرو سترګو ژړولي وو ۔او هاغه مخبران مشران چې د فيرنګي دپاره ئې کار کړی وۀ، هغه چرې هم ددې سيمې اولس معاف نۀ کړۀ ۔په دغه الميه د مېنۍ سعادت نومې شاعر دخپلو جذباتو اظهار داسې کړی دی۔

ارمان ارمان د دنيا واره
اسلام شو کم کفر بسياره

دې ملاکنډ ته ګوراګان ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

ارمان ارمان دی زما خدایه
فوځونه لاړلو د ځایه
په یوسفزي مومند کښې شور
بیان کوم به تاته نور

پاکه ثناء د الله وایه
په نیت مومنه د غزایه
جرګه دې وکړه په لاهور
فیرنګی ځي غرهٔ ته په زور
د محمد ﷺ د دین پره یه
په جماعت باندې ډېره یه
له هر چا پاتې کلی کور
فیرنګی ځي سوات ته په زور
پلټنې کوچ شوې له نوښاره
ارمان ارمان د دنیا واره
ډین[۵] ببړې له قهروان ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

دویم پړاؤ ئې په مردان
کؤمه تاسو ته ګردان
په صبح دم کښې ګارډ تیار شو
په جلاله باندې ایسار شو
د لامدهٔ خوړ ښادي په ځان
د فوځ په مخکښې شو روان
د دهٔ په بډو کښې روزګار شو
ښادي ملک په ایمان خوار شو
په مخکښې تلو به کمېدان

فوځ ئې ډېره کړو په مردان
د فيرنګيانو خطا وار شو
غلام حېدر ئې ذمه وار شو
غلام حېدر ووې سر کاره
ارمان ارمان د دنيا واره
له ما سره به نوکران ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

بل فيرنګي ملا ئې مل
نۀ اخلي په سپينه لاره پل
زۀ به ئې نه کوم صفت
ددۀ ثواب دی په غېبت
تاته به زۀ وايمه ګل
شوی د حضرت په دين کښې غل
مولا ئې کا په ژبه لل
واړه کارونه دي د چل
بل په سخاکوټ کښې دی صحبت
عالم په دۀ وائي لعنت
شو په انګرېزو کښې روئيداره
ارمان ارمان د دنيا واره
دغه به درې واړه سوران ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

په ملاکنډ ئې جوړ کړو جنګ
فوځونه ډېر دي د فيرنګ
خلق ډېره په بيابانو
چغې ويستې به طالبانو
رانېزو ؤنه کړو ترې ځنګ
ګوره ئې کړۀ په وينو رنګ
هر يو په مثل د تابانو

په دوي نظر د پاک منانو
هر يو غازي د ګل په رنګ
زمين ئې کړو وربانديې تنګ
کۀ څوک سپين ږيرى کۀ نادانو
په زړګي سخت لکه سندانو
د محمد ﷺ د دين د پاره
ارمان ارمان د دنيا واره
واړه کامل کامل پيران ځي
ډير ئې په مخکښې مخبران ځي

وې د بټ خيلې مير اعظم
له ما سره نوکران حم
د خدائی د پاره ترم ملا نن
په برکت د بسم الله نن
هر يو غازي وى جنګ له ځم
بې شهادت کله راځم
لکه د بور کوؤ حمله نن
اولسه دغه ده صلا نن
ميراعظم خان وى سر ته ځم
څۀ له به ځان په چا کنځم
يا به دشمن کړمه تيلا نن
يا به پرې سوات کړمه تالا نن
اخر دى کوچ له دې بازاره
ارمان ارمان د دنيا واره
د تورو جنګ له کشران ځي
ډير ئې په مخکښې مخبران ځي

غزا له ځي سعدالله خان
عالمه ګل دى د ريحان
خاص په ډيري کښې ئې مکان
تورې ئې څرخ کړي په دوکان

د دهٔ ملګري وو شېخان
په بېز وراغلهٔ شرمخان
تالا والا شو لکه کان
ښائسته زلمي د طوطکان
حکم ورکړو سعدالله خان
ګوره ئې قتل کړهٔ په ځان
په غزا مئين دي عاشقان
په ماتې ځي ډګره سکهان
چرې به را نه شي دوباره
ارمان ارمان ددنيا واره
واړه په چغه په سوران
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

د اله ډنډ شريف مرتد
په دين کښې غل د محمدﷺ
دا ئې وئيل چې اى سرکار
ماته په ګوته ښايه کار
ډين صېب وئيل د سوات حد
ښه به ئې کوئ چې نه وي بد
تابه دستي کړمه روئيدار
له اول سره نمبردار
دهٔ شرمولی دي خپل جد
د پيرنګيانو شو ولد
شوي په بډو کښې روزګار
منافقئ ته شو اوزګار
بهادر دين وى شه قراره
ارمان ارمان د دنيا واره
ستا په مدد جمعداران ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

د غم پرې راشه شبرات
چې چا ورکړې دی ښه سوات
پورې د اوچ ملک نصری دی
غټو لېوګانو کښې زمری دی
د تانې سراسلم عنات
مولا دې دواړه کړي میرات
بل په نظر مې ماموری دی
ویستلي توره امزری دی
د تورې ډز ئې په هرات
د ګوراګانو وۀ جلات
نن د مونډې کلي لری دی
د فیرنګیانو پرې بری دی
عمراخان ووت له ښاره
ارمان ارمان د دنیا واره
په مخ ئې چړ اوښې باران ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي

په دیر لیدلی مې رئیس
پېدا بچی دی د خبیث
تاسو کړئ یقین زما په قل
پېرنګي پورته کړی منزل
بډې واخستې ابلیس
ځان ئې لائق کړو د کلیس
دغه به لیک وۀ په ازل
کۀ وام چاپېته یا غزل
نن د اسلام ګولۍ شوه مس
اخونه بس کړه دغه قیص
ښکته کمنۍ ووې یو ځل
بادشاه بندي کړو شېر افضل
سعادت چاربېته کړه تیاره

ځکه په ټيټه شاعران ځي
ډېر ئې په مخکښې مخبران ځي(۶)

محترم همېش خليل په خپل کتاب "د چاربېتې پخواني شاعران" کښې د ياسين اخون چاربېته هم راخيستې ده. ياسين اخون په مردان کښې د کمشنر په دفتر کښې چپړاسي وۀ. د کمشنر دفتر ته د ځينې مخبرانو تګ راتګ او د فيرنګي نه د هغوي مالي وصولي، دا هر څۀ د هغه د سترګو په وړاندې وو. په حېث د پښتون او مسلمان همدردي ئې د خپلو پښتنو ورونو سره وه. په دې چاربېته کښې ياسين اخون څۀ کسان کنځلي هم دي. همېش خليل دغه چاربېته بغېر د څۀ کمي زياتي نه رانقل کړې ده. البته سليمان شاهد پخپل اردو کتاب "گمنام رياست" کښې هاغه ځايونه نۀ دي رانقل کړي، په کومو مصرعو کښې چې کنځل وو.

**چاربېته د ملاکنډ جنګ**

جنګ جوړ په ملاکنډ شو
غازيان راغله غويمنډ شو
په ببرته نۀ جارؤځي د حضرت په دين ئې ننګ وۀ
کړي قتل د فرنګو
انګرېز کړو لام تيار
ځي سوات ته په تلوار
ډېره شو په سخاکوټ زر ئې رپورټ وليکو ښکته
پوئ نۀ يمه په پته
پوئ نۀ شوم په احوال زۀ
اخته شوم په جنجال زۀ
ما نيت کړو د کاشغر سوال کړم ايسار مزل مې لنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
مانکي باندې تهمت
هر چا ووې لعنت
ټګي ئې د غازيانو سره وکړه ځکه خوار شو
ټول عمر ئې په دار شو
روان مانکي ملا شو
د کفر په صلاح شو

وهلی ئې عالمه د هندو په شانې لنګ وۀ
کړي قتل د فرنګو
مانکي او شریف(۷) خان وو
څو تنه فیرنګیان وو
جرګه سره اوکړله چترال ئې مقرر کړو
مانکي اجازت ورکړو
مانکي د دوي رهبر شو
طلب ئې مقرر شو
روپۍ ورکړې شپږ زره خوشحال په هغه پنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
دا وې غلام(۸) حېدر
ذمه ئې ده د غر
خدمت کښې ډېر راستمند ؤ مشر زوی وۀ د لاټ
په مخکښې تلو د ګاټ
د ګاټ مٰخکښې روان وۀ
غټ زوی د شېطان وۀ
فیرنګ درومي په بره د مانکي ملا دو رنګ وۀ
کړي قتل د فیرنګو
ښادي د لوندۀ خوړ
بل باز وۀ د شېرګړ
د دوي نه ښځي واخلم دغه دواړه مخبران وو
د فوځ مخکښې روان وو
سخاکوټ کښې وې صحبت(۹)
پوهېږم په حکمت
پلټڼ ئې د شپې بوتله غټ دله د کفر ډنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
غازیان راتلۀ په وړاندې
ګوره ښکاره شو لاندې
لا دې نۀ خبر نۀ وۀ چړق پرې راغی ناګهانه
پلټڼ د غرۀ د شانه

د پاسه توپ خانه وه
ړلۍ ناګهانه وه
د سلېمې ئې تمام کړۀ هر غازي د ګل په رنګ وۀ
کړي قتل د فيرنګو
وۀ مخکښې مير اعظم(۱۰)
ګوره ئې کړۀ قلم
مولا دې ورله ورکړي جنتونه خوږ ديدار
طوطي دی د بهار
بل مل ئې سعدالله(۱۱) وۀ
مزری د پاک مولا وۀ
ارمان ئې پاتې نۀ شو په کفارو ئې زړۀ تنده شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
رحمت په حاجي پير(۱۲) شو
جنت کښې ئې جاګير شو
غزا پسې راووت په اخلاص ګېر ئې کفار کړۀ
څو تنه ئې مردار کړۀ
دی هم زخمي في الحال شو
راضي ترې ذوالجلال شو
غزا چې په رضا د رب کوي کله بدرنګ وۀ
کړي قتل د فيرنګو
پړقا شوله د تورو
سندرې شوې د حورو
پرې راغله طالبان لکه طوطيان ګډ په ګاګرې شو
يو بل ته په نارې شو
ګاګرې نۀ شو چاپېر
ګوره ئې کړو راګېر
د توپو دندوکار وۀ له هر چا نه خطا منډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
حېران شو سعادت(۱۳) خان ته
راوواتۀ مېدان ته

ګولۍ لکه ږلۍ پرې ورېدې نۀ ئې خطر کړو
لا خوند ئې ورله ورکړو
معصومه(۱۴) زنانه وه
په جنګ کښې مردانه وه
شپېتۀ کسه ځوانان وو ورسره مست وو بې بنګو
کړي قتل د فیرنګو
معصومې جنګ آغاز کړو
دا رنګ به ئې اواز کړو
مړۀ شئ به شهیدان پاتې به هر سړی غازي شي
خاوند به ترې راضي شي
قادر نوکران واړه
په جنګ کښې وو همغاړه
یاران ئې ترې نه مړۀ کړه دی یوازی پاتې شنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
قادر(۱۵) معصومې ببرته
یوازې لاړه ګهر ته
په بله ورځ ئې جنګ وۀ په بټ خېله زما لاله
خبر دې کړم له حاله
جنګ جوړ شو په بټ خېله
قربان د هغه سېله
سواتیان او طالبان به پرې راتلۀ هر یو پتنګ وۀ
کړي قتل د فیرنګو
یو ځوان د ګوګدرې وۀ
روان په سر پرې وۀ
ګوره ئې کړۀ پره اوخاتۀ بیا د کنډو سر ته
فوځونه راغله ببرته
غازیانو کړو جنګرېز
بئیلات وکړو انګرېز
جرنېل ته زر راوړاندې خان دله(۱۶) د اله ډنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو

وې راؤغوارړه رساله تۀ
بيا ګوره معامله تۀ
سواتيان خلق ويربړي د سورو د درب له باده
اصلي خبره دا ده
يو دوه سوه د ګاټ
سوارۀ راغله په تراټ
خانان پرې دله ګان شو دغه نۀ د پښتو ننګ وۀ
کړي قتل د فيرنګو
غازيان لاړۀ په ماتي
مړه ژوبل شو ترې پاتې
پلټنې رسالې ئې کړې ډېره د سين(۱۷) په غاړه
تل خېر له خدايه غواړه
بيا لاړۀ چکدرې ته
اوس ګوره ننداري ته
غازي محمد شاه(۱۸) خان ورته په لويه لار کښې
خرنړ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
پلټن سفر مېنا وه
رشتينې مې وېنا وه
په بېرته مې راواخيستۀ جنګ جوړ شو هغه دم
تلی نه شو يو قدم
جنګ وشو ټوله ورځ
پوئ شه په الغرض
مېګزين وۀ ځخه خلاص شو لاړ په بېرته ئې
غورځنګ وۀ
کړي قتل د فيرنګو
فوځونه ئې کړه روان
انګرېز هغه زمان
د دير هغه خنزير ئې مخکښې تلو لکه د سګ
مجلس ته کېده غوړ

مقام د شګو کڅ
دوي وینؤ په هوس
هډېږ[۱۹] ملا صاحب ورته ډېره په پورې ونه شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
کمپنۍ پنځه تیارې
باټي(۲۰) کړې په تلوارې
د سین نه ئې پورې کۀ ئې ګورې ننداري دي
ګلونه منجرې دي
خزان راغی په ګلو
پړقا شوه د اوښکلو
چې جنګ له د هډې ملا صاحب ځي په زړۀ زنګ وۀ
کړې قتل د فیرنګو
جنګ جوړ کړو عجائب
هډې ملا صاحب
شېخان او طالبان مهمند د سېلمې ورسره وو
لس زره په شماره وو
جنګ جوړ سحر وختي شو
د توپو درزهر شو
څوک روغ وو څوک زخمیان وو د چا مات پکښې
مرکنډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
جنګ اوشو تر دوپهره
سختي پرې راغله ډېره
باټي وکړو ارمان چې فوځ مې غرق شو بې کارتوسه
بې ډاکا بې جاسوسه
شیشه کښې ئې خبر کړه
بهادر ئې سمندر(۲۱) کړه
مېګزین ئې په اتمه صدۍ راوړی هغه رنګ وۀ
کړې قتل د فیرنګو
شو وخت د ماسپښین

بیا وکړو یاسین
ناساپه د غازیانو نه پرې اوشو یو ګذار
باتې ئې کړو قلار
ګوزار پرې برابر شو
زخمي د زړۀ په سر شو
راضي له افریدو د کمپنۍ خلقه ګورنمنډ[۲۲] شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
مونډه کښې شهزاده وۀ
رشتیا اصیل زاده وۀ
په چل کښې ئې رخصت کړو له مونډې عمراخان[۲۴]
کابل ته شو روان
وې څه امیر له درومه
قیصه دې شوه معلومه
تا وژني فیرنګیان هغه ځائی هم د پښتو ننګ وۀ
کړي قتل د فیرنګو
یاسینه وړاندې مۀ څه
د میا رحیم شاه[۲۵] ښځه
په ښه وجه ئې کړه یاده چې پرې ټول عالم خبر شي
لعنت دې ئې په ټبر شي
د اوچ نصری[۲۶] ملک
مولا دې ئې کړي سپک
وسله دارو ئې اخیستۀ غازیانو نه په زور
............ ئې شم په نښور
اسلم[۲۷] که عنایت[۲۸]
په لور کښې ئې کړم ...........
د سوات او د بونیر عالم تمام ورله راغونډ شو
جنګ جوړ په ملاکنډ شو
ولي د سیدو ګانو
ښه ګرم ئې دوکانو
ازار ئې وریسې شو ماڼکي سپک له ښه شو

د پښنو لاندې پښه شو
دشمن دی د اسلام
هر څوک دې وکړي پام
صفدر[۲۹] د ناوګۍ دې رب په ښځه لور کړي یاد
رشوت اوخوړ نامراد
دا لیک وۀ د ازل
له تخته شېر افضل[۳۰]
راکوز شو زما روره کۀ په مثل د اورنګ وۀ
کړي قتل د فرنګو[۳۱]

لکه څنګه چې د مېنې د سعادت اخون او د یاسین اخون مانکي ملا او څۀ نور خانان ملکان یاد کړي دي چې دوي په دې جنګ کښې د فیرنګي ملګري وو ۔ معلومېږي چې دغه خبره به په عوامو کښې عامه شوې وه ۔ نورو خانانو ملکانوخو ددغې الزام څۀ تردید نۀ دی کړی البته د مانکي ملا د ډلې یو شاعر چې نوم ئې سعید دی، ډېر په تفصیل او سختۍ ددې تردید کړی دی ۔ د هغه د منظوم کتاب نوم "فتح بشارت" دی ۔ اوس دا کتاب نایاب دی ۔ دغه کتاب په کال۱۳۲۶ ھ یعني د کال ۱۹۰۶ ء کښې تر چاپه رسېدلی دی ۔ دوي دا هم لیکلي دي چې د ملاکنډ د غزا کمانډر شېخ یمین د مانکي صاحب مرید خاص وۀ ۔ د شېخ یمین ددغه مریدۍ تصدیق د مېجر ډین ددغه موقعې د ډائرۍ نۀ هم کېږي[۳۲] ۔ د چیف پولیټکل افسر چترال ریلیف فورس دغه دائرۍ او فائینل رپورټ په کال ۱۹۰۱ ء کښې چاپ دي ۔ دلته دد سعید د کتاب "فتح بشارت" نه څو اشعار هم نقل کولی شي ۔

ما سعید چې شروع کړه په دی ابیات
سنه شپږ ویشت دیارلس سوه پر صفات
دا سبب شو د تالیف ددی بیان
چې ډېر خلق د صاحب وه عیب ګویان
په جهاد د ملاکنډ کښې حاسدین
ډېر عالم په صاحب چې شو خاسرین
په الفاظو نالایقو رنګا رنګ
په ایمان د ډیرو پریوتو تور زنګ
په هر ملک په هر وطن او کور پکور
بد وئیل به صاحب جي ته هر مختور

جاهلان د مسئلې نه ناخبر وو
په ازار د صاحب جي کښې سراسر وو
او حال دا چه ملاکنډ کښې شېخ يمين
څوارلس شلې کافران کړه زير زمين
په شمار شپږ شپېته کامل متقيانو
شهيدان شو له صاححب له مريدانو
هم موره کښې په زرګونو ډېر لښکر
شېخ يمين وه کينولی زير زبر[۳۳]

بيا وړاندې داسې ليکي:

او جاهلو به وئيل مانکي صاحب
غزا نۀ کړي له فرنګ اخلي ماجب
فهم وکړه دا دی حال د حاسدينو
بې تحقيق کوي غېبت د صالحينو[۳۴]

وړاندې ئې بيا د خپلو خپلوانو د مجبورۍ متعلق داسې ليکلي دي:

بل د صاحب په رعيت اتيا خپلوان
زېر نظر دي د فرنګو هر زمان[۳۵]

شاعر سعيد د فيرنګي راتلل د تاښې د خانخېلو سازش ګڼي. او دا هم ښائي چې د هغوي متعلق دغه پېشګوئي دولس کاله وړاندې کړې وه. په دغه حساب دغه د کال خبره ده. دلته دا خبره هم کوي چې دغه مذکوره خلقو د هاغه وخت نه د فيرنګي نه ماجبونه اخيسته.

که خانخېلو ددې ملک نه کړو راپورته
اوبه نۀ ګوري فرنګ زمونږ دې لور ته
کۀ خانخېل ئې د تاښې شو مددګار
پس په سوات کښې به داخل شي سور کفار
خو دې خواله لنډاکي به حکومت
خدائی اونۀ کړو په غېرت د شعريعت[۳۶]

فيرنګی چې کله د ملاکنډ د سيمې په نيولو کښې کامياب شو. دلته ساه صورت شو. او د ځينې نژدې خلقو ورسره تګ راتګ شررع شو نو ددې سيمې د خلقو نه د پېښېدونکې خطرې نه لږ

بې غمه شو . دوه کاله ئې ښهٔ په مزه حکومت اوکړو . په کال ۱۸۹۷ء کښې ددې ځائی پښتنو بغاوت اوکړو او په ملاکنډ او چکدره ئې حملې وکړې. دا حملې داسې ناڅاپي او زورداري وې چې د فیرنګي نه ئې وارو پار خطا کړهٔ . ددې اندازه د چرچل ددې لیک نه کېږي:

"د کال ۱۸۹۷ء ددغه قبائیلي انقلاب اصل وجوهات نه خو یو یورپي پېژندی شي او نهٔ دغه مشرقي خیالات ته رسېدی شي"(۳۷)

د چرچل ددې لیک نه د فیرنګي د وار و پار خطا کېدو پته په اسانه لګېدې شي . ددې نه دا هم پته لګي چې دې بغاوت د فیرنګي په کور څومره زلزل راوستی وهٔ . هم دغه سبب وهٔ چې فیرنګي ددې بغاوت د سمدستي قلارولو تابیا وکړه . د هندوستان نه فوځي لښکرې را روانې شوې . پښتانهٔ هم هسې ناست نهٔ وو . خو دا کمی وهٔ چې دوي یو منظم قوت نهٔ وهٔ . په دغه جنګ کښې هم ډېرو غېرتمندو په وطن خپل سرونه وشیندل . د جنګ څهٔ تته شان خاکه سید عباس شاعر په خپله چاربېته کښې داسې وړاندې کوي:

د کلکتې نه راختلي فیرنګیان دي
غزا غوړېږي ښهٔ ځلمي پسې روان دي د کلکتې
د کلکتې نه راختلی دی فیرنګ
خلقه اعتبار وکړئ په سوې جوړ کړو جنګ
یو یر غازي پرې ځان سیزي لکه تنګ
د لنډاکي بابا سره ډېر هلکان دي د کلکتې

دی لنډاکي بابا پرې ورک د زړهٔ ارمان کړهٔ
چرته د ډین د ناستې ځائی وهٔ آ ئې وران کړهٔ
واړه واړه ئې ورداخل خاص په ماښام کړهٔ
په رنګ مالاکښې ئې وژلي ګوراګان دي د کلکتې

په رنګ مالا کښې ئې مردار کړل ډېر کفار
دې میچني له قاصد راغی په تلوار
په شاه ډهېری کښې به دې سور کړي په انګار
خښو بارو ته راختلي سرداران دي د کلکتې
خښو بارو ته راختلې عالم ډېر
دا بابوزی ورله راغلی تېرو بېر

په خزان توئې شو ټول ګلونه د نمبر
په بې عرضۍ ورته پراتۀ دغه ځوانان دي د کلکتې

په بې عرضۍ مې ورته پروت د زړۀ دلبر دی
دا روغانی، قدرت علي مې د زړۀ سر دی
په شنو ټوپکو لګېدلی مازيګر دی
د روغاني دې راخيستو ته ټول حېران دي د کلکتې

د روغاني دې راخيستو ته دي اتاله
دانشانچيان توغونه وړي کاږۀ د خياله
دې پښتنو ورته نيولی هسپتاله
د شمشي خان سره څلور تنه ځوانان دي د کلکتې

د شمشي خان سره څلور تنه شو پاتې
خوئيندې خورلڼې د دوي هلته شوې ميراتې
چرته به ګوري د شمشي سترګې جلاتې
سيد عباس وائي ټول ګلونه د بوستان د کلکتې(۳۸)

د فيرنګي سره د پښتنو دغه مبارزه جاري وه. کۀ فيرنګی تربيت يافته فوځي او چالاک وۀ نو پښتون پخپله خاوره په خپل سرپه نۀ کوله. هسې ناست نۀ وۀ. فيرنګی ئې پوزې له راوستی وۀ. په بېلا بېلو طريقو ئې دښمنن په نخښنه کړی وۀ. په دغه ترس کښې د چکدرې د قلعه نه په داسې طريقه ټوپکې ويستل چې چالاک فيرنګی ئې حق حېران کړی وۀ. دا هم د فيرنګي نه د کرکې يوه ښکاره علامه ده. دغه واقعه پائنده خان شاعر داسې وئيلې ده:

ټوپک د چکدرې نه چا يوړو د پنجرې نه
رسا د ملاکنډه ورله راغلۀ فيرنګيان
ورته ودرېدۀ حېران

ټوپک ئې کړو ترې پټ
سوری ئې کړو پرې ګوټ
غلۀ لاړل څنګ و څټ شو د انګرېز د خطرې نه

ټوپک د چکدرې نه

انګرېز وکړو تدبیر
بې شانه شو ذهیر
غلۀ لاړل هواګیر چې په درګۍ شو ورته پنډه
رسا د ملاکنډه

فرنګ وکړه دا لاپه
میمانو ته دا شاپه
اسلام به کړم خرابه ورپسې به شم روان
ورته ودرېدۀ حېران

میمانو وې سرکاره
وتلی ئې د کاره
کونسل وکړه چې خلاص شی ددې نوې معاملې نه
ټوپک د چکدرې نه

فیرنګ وکړو دا شور
مونږ ټول شولو بې کور
په دې کار کښې صلاح ده چې ټول وکړو پرې غونډه
رسا د ملاکنډه

قانون ئې کړو روان
وی دا زمونږ ارمان
چې سوات او باجوړ دې خالي نۀ وي له نرغې نه
ټوپک د چکدرې نه

ډېلې مې ورکړې
خانان مې غلي کړې
غرض به په ما نۀ کوي دا کار به شي اسان

ورته ودرېدۀ حېران

اسلام دی اتفاق
ورپکښې نشته نفاق
تباه دې هم هغه شي چې څوک ځي رانه په څنډه
رسا د ملاکنډه

کافر ټول د سېلمې نه
د هرې معاملې نه
په دې فکر اخته چې کار وشي بې اسرې نه
ټوپک د چکدرې نه

وئيل د پائنده خان
افسوس ارمان ارمان
کارونه د رب دا دي چې په زړۀ مې دی خفگان
ورته ودرېدۀ حېران(۳۹)

په کال ۱۹۳۵ ء کښې چې الينګار فقير اګرې ملاکنډ ايجنسۍ ته راغی نو د هغه نه بلها غازيان تاؤ شو. د غزا اعلان وشو. د اګرې په دغه غزا کښې د ملاکنډ پوليټکل ايجنټ ايل، ډبليو، ايچ، ډي بيسټ LWHD BEST وژلی شوی وۀ. دا وړه خبره نۀ ده. دغه غزا سدوزي نومې شاعر داسې ستائيلې ده:

د فيرنګي سره فوځيان شته دی
خو د فقير سره غازيان شته دی
ګورګورې تورې دي جانانه
علامې نورې دي جانانه
څۀ به خوند واخلو د ګورګورو
ګولۍ وريږي په هر غرو
دا ورځې سپورې دي جانانه

ګورګورې تورې دي جانانه
کۀ اتمانخېل کۀ یوسفزي دي
واړه خپلوان د سدوزي دي
د اسمان ستوري دي جانانه
ګورګورې تورې دي جانانه[۴۰]

# حوالې

(۱) صابر، صاحب شاه، پروفېسر ډاکټر، د پښتو شاعرۍ په وده کښې د تنقيد کردار، د اماراتو ادبي ټولنه، دوبۍ، جنوري ۲۰۱۵ء ، ص: ۵۵۰

(۲) داؤد، داور خان، پښتو پټه (دوېم ايډيشن)، يونيورستي بک ايجنسي، پېښور، جولائي، ۱۹۸۴ء شهباز محمد، د ملاکنډ غزګانې، پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون، ۲۰۱۶ء، ص: ۵۹

(۳) محمد، شهباز، د ملاکنډ غزګانې، ص ص، ۵۹، ۸۹

(۴) خليل، همېش، د چاپېتې پخواني شاعران، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي، پېښور، ۲۰۰۸ء، ص: ۵۷۳

(۵) ډين، ايچ اې، چيف پوليټيکل افسر، چترال ريليف فورس، روستو بيا د ملاکنډ پي اې شو

(۶) خليل، همېش، د چاپېتې پخواني شاعران، ص ص: ۳۲۷، ۳۳۴

(۷) شريف خان، د اله ډنډ خان

(۸) غلام حېدر، د درګۍ، ملاکنډ

(۹) صمت يا صمد، د درګۍ خان وو د راحت خان او اکرام خان پلار او د نېک عمل خان نيکه. دلته کاتب په غلطۍ سره صحبت ليکلی دی.

(۱۰) مير اعظم د بټ خېلې

(۱۱) سعدالله د ډهېري کلي

(۱۲) حاجي پير د بټ خېلې

(۱۳) سعادت خان، د بټ خېلې

(۱۴) معصومه ابۍ، اصل د بټ خېلې وه. په ډهېري کلي کښې وادۀ وه. په ملاکنډ پوهنتون کښې، ددې غېرتمندې زنانه په نوم يو هاسټل هم منسوب کړی شوی دی.

(۱۵) قادر د ډهېري کلي

(۱۶) سعادت خان د اله ډنډ

(۱۷) د سين نه د سوات سيند مراد دی.

(۱۸) غازي محمد شاه خان د عمرا خان ورور وۀ.

(۱۹) هډې صاحب: د دۀ خپل نوم نجم الدين وۀ. بزرګ اۇ غازي وۀ. تر وفاته ئې د فيرنګي په خلاف خپله مبارزه جاري ساتلې وه.

(۲۰) باټي: د فيرنګي فوځ لوئی افسر جنرل باټ.

(۲۱) سمندر صوبيدار د بغدادې د مير احمد شاه جمعدار زوی وۀ.

(۲۲) ګورنمنډ، مطلب ګورنمنټ يعني سرکار.

(۲۳) شهزاده سلطان ابراهیم خان د پېښور اکسټرا اسسټنټ کمشنر.
(۲۴) عمرا خان د جندول، ددې غزا مرکزي کردار.
(۲۵) میا رحیم شاه کاکاخېل، دهٔ ته فیرنګي د خپل خدمت او ملګرتیا په بدله کښې د جنګ نه پس سمدستي د پنځه سوه (۵۰۰) روپو جاګیر ورکړی وهٔ. ددغه منظوري د سیکټري آف انډیا له اړخه دمبجر ډین په نوم د خط نمبر ۲۴۲۵ ایف، مورخه ۴ ستمبر ۱۸۹۶ء شمله نه تصدیق کېږي.
(۲۶) نصری ملک د اوچ.
(۲۷) اسلم خان د تانړې د کوز خان بهادر خان بهرام خان نیکهٔ وهٔ.
(۲۸) عنایت، اصل نوم عنایت الله خان د تانړې کلي، په انات خان مشهور وهٔ.
(۲۹) صفدر د ناوګۍ باجوړ.
(۳۰) شېر افضل، ددغه وخت د چترال مهتر وهٔ.
(۳۱) خلیل، همېش، د چاربېتې پخواني شاعران، ص ص: ۷۸۸، ۷۹۹
(۳۲) Diaries of the Chief Political Officer, Chitral Relief Force and Final Report-Political Diary for week ending 9th April, 1895, Office of the superintendent of Govt. Printing Press, India, Calcutta, 1901.
(۳۳) سعید، فتح بشارت، ۱۹۰۶ء، ص: ۱، دا کتاب په پښتو مثنوي کښې لیکلی شوی او چاپ شوی دی. ټول ټال تقریباً دوه زره یو سل او پنځه دېرش (۲۱۳۵) شعرونه لري. تقریباً سل صفحې کتاد دی. په صفحه نمبر ۴۱ او صفحه ۵۱ فارسي نثر لري. دا کتاب نایاب دی.
(۳۴) هم دغه، ص: ۲
(۳۵) هم دغه، ص: ۳
(۳۶) هم دغه، ص: ۷۰
(۳۷) محمد، شهباز، ملاکنډ فیلډ فورس، د چرچل د انګریزي کتاب ترجمه، SPO اداره شوکتي ترقي استحکام، پېښور، ۲۰۰۹ء، ص: ۲۷
(۳۸) محمد، شهباز، د ملاکنډ چاربېته، ناچاپه.
(۳۹) خلیل، همېش، ص ص: ۱۲۳، ۱۲۴، ۱۲۵، شهباز محمد، د ملاکنډ چاربېته، اولسي سندرې دوهم ټوک، د قومونو او قبائلو وزارت د نشریاتو فرهنګي چارو ریاست، کابل.
(۴۰) محمد، شهباز، د ملاکنډ غزاګانې، ص: ۱۲۵